SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان
شپږم کال ۸ مه گڼه پرله پسې (۳۸۸) یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ذي القعدة الحرام(۳)
د۱۳۷۹هـ ش کال د سلواغي دمیاشتي(۹)د۲۰۰۱ میلادي کال د جنوري (۲۸)

محترم وزیر معادن و صنایع در ملاقات با رئیس کمپني جیوتخنیك جمهوري سلواکیا :

ا.ا.ا به سرمایه گذاران کمپني هاي خارجي زمینه خدمت را فراهم مي نماید

کابل - باختر :
محترم ملا محمد عیسي اخند وزیر معادن و صنایع با شاغلي میلوش رئیس کمپني جیوتخنیك جمهوري سوالکیا ملاقات نمود.
در این ملاقات درحالیکه محترم ملا حبیب الله اخند معین معادن و صنایع آنوزارت نیز حاضر بود محترم وزیر معادن و صنایع در رابطه به زمینه سرمایه گذاري که از سوي ا.ا.ا مهیا گردیده صحبت نموده گفت ما به سرمایه گذاران کمپني هاي خارجي زمینه هر گونه فعالیت را فراهم نموده ایم و امارت اسلامي در این راستا با سرمایه گذاران خارجي هرگونه همکاري را مرعي میدارد.
بعداً شاغلي میلوش ازامنیت مطمئن در افغانستان اظهار خوشي نموده بر خورد مسؤلین امارت اسلامي را ستوده گفت ما به این اراده میباشیم که در افغانستان به استخراج معادن با انجنیران افغاني همکاري نماییم و آرزو داریم تا به استخراج معدن مس عینك لوگر آغاز نماییم وي گفت ما

ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې! همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د بگرام په استقامت:

د مخالفینو برید شنډ کړای شو

د برید په پیل کي یې څه پر مختگ وکړ خو وروسته له سخت مقاومت سره مخامخ او په شا وتمبول شول

د مغــــوي دوه چینه ټانکونه هم د اسلامي اردو د ځواکونو لاس ته ورغــلل

د اسلامي اردو د متقابلي حملي په نتیجه کي مخالفینوته زیات ځاني او مالي تاوان واوښت

کابل - باختر :
د کاپیسا ولایت د شوخی د کلی په استقامت او د بگرام په شاوخوا غونډیو کی د اسلامی امارت د مخالفینو دوه تعرضونه پرون شنډ کړای شول.
د اسلامی اردو یوه خبر بڅای د باختر اطلاعاتی آژانس ته خبر ورکړ د خلکو د سولی او امنیت دښمنانو پرون سهار په لومړیو وختو کی د کاپیسا ولایت د شوخی د کلی په استقامت په یو ناکام برید لاس پوری کړ چی په هماغو لومړیو شیبو کی د اسلامی اردو د مجاهدینو د پوځونو له سرښندونکی مقاومت سره مخامخ شول او د سر د

٤ مخ

په پنجشیر کي :

دمخالفینو تر منځ اختلافونو زور وموند

کابل - شریعت :
شریعت ته د موثقو خبرو سرچینو په حواله ویل شوی چی د پنجشیر په ولسوالی کی د مخالفینو ترمنځ اختلافونو بیا زور پیدا کړی د مسعود لخوا یو شمیر کسان په دی تور تیول شوی چی گواکی هغوی له داخل نه د اسلامی امارت له قوتونو سره ارتباط قایم کړی.
د همدی تورونو کسانو سل کورنی له پنجشیر نه کابل او نورو سیمو ته په وتلو مجبوری

٤ مخ

تشکیلاتی کمیسیون غونډه وکړه

کابل - باختر
د افغانستان د اسلامی امارت د ۱٤۲۲ هجری قمری کال موظف تشکیلاتی کمیسیون پرون د مالیی وزیر او د خاص هیأت د رئیس محترم ملا اغا جان معتصم په مشری غونډه وکړه
د غه کمیسیون د

٤ مخ

د عامي روغتیا په وزارت کی :

د لومړنیو روغتیایی څارنو کورس جوړ شو

کابل - باختر :
د کابل ولایت د پغمان او چارآسیاب د ولسوالیو او

٤ مخ

در جوزجان بالاي ۷۰۰ فامیل مواد غذایي توزیع گردید

جوزجان - باختر :
یکمقدار گندم اخیرا به هفتصد فامیل بی بضاعت و معلولین در ولایت سرپل توزیع گردیده است.
گندم متذکره که مساعدت سازمان خوراکه و مواد

ص ٤



تصویر د عامې روغتیا وزارت ودانۍ ښيي — عکاسي یوسف

د شکردری په ولسوالی کی:

یوه اندازه وسله تر لاسه شوه

کابل - باختر :
د استخباراتو د لوی ریاست د څلورمی اداری د منسوبینو د هڅو او هاند له امله په دی وروستیو وختو کی یوه اندازه درنده وسله د کابل ولایت د شکر دری په ولسوالی کی کشف او تر لاسه شویده.
په دغو وسلو او مهماتو کی د بی ام یودو ه دستگاوی او یو ذوه اتیا ملیمتری

٤ مخ

د کابل ښار والي لخوا :

سرغـــړوونکی مجـازات شـول

کابل - باختر :
د کابل ښاروالی د بیو د کنترول موظفینو پرون د کابل ښار په بیلا بیلو ناحیو کی یو شمیر هټیوالو دوکانونو چی له اروندی لایحی څخه یی سرغړونه کړی وه د یوې ټاکـلې مودې لپاره وتړل.
د کابل ښاروالی د بیو د کنترول مؤظفینو پرون شپږ دیرش قصابی، ۲٤ نانوایی گانی اوه هوټلونه د چونگی پخولو شپږ نانوایی گانی د یو شمیر گنهونکو هټی

٤ مخ

په ترکیه کي د پي.کي.کي او حکومت تر منځ د جگړي احتمال

نړیوالی خبری سرچینی - باختر
د ترکیی د کردستان د کارگرانو گوند مشر عبدالله اوجالان چی په یی کال کال مشهور دی ویلی دی چی کیدای شی دغه هیواد له اردو سره د دغه گوند جگړه بیا پیل

مخ

محترم مولوي سید فاروق «مظهري»رئیس اطفائیه عمومي درمصاحبه با «شریعت» :

اولین گروپ افسران درسال ۱۳٤۸ هـ ش به انگلستان اعزام گردید

با عودت این گروپ به کشور درسال ۱۳٤۹ تحول عظیمي درمسایل اطفائیه بوجود آمد

شریعت : خوانندگان عزیز ! خبرنگار ما ابتدا از ریاست اطفائیه عمومي دیدن نموده ومصاحبه را بامحترم مولوي سید فاروق مظهري رئیس آن ارگان عام المنفعه انجام داده است که به توجه شما رسانیده میشود .
در آغاز محترم مولوي سید فاروق مظهري رئیس اطفائیه عمومي درمورد تاریخچه این موسسه عام المنفعه چنین معلومات ارائه داشتند : پس از استرداد استقلال کشور عزیز ما افغانستان درسال ۱۹۱۹ میلادي وسایط اطفائیه عبارت بود از چند پایه واتر پمپ دستکي که ذریعه کراچي انتقال داده میشد واز نزدیك محل حادثه حریق توسط دست بمبه میشد وآب رابطرف حریق پاش میداد . وکار گران موظف ذریعه بیل وکلند وپاشیدن آب حریق راخاموش مي ساختند ولي بعدها چون پادشاه وقت به سفر کشور هاي اروپایي تشریف بردند باخریداري چند پایه واترپمپ قواي اطفائیه را ماشیني ساختند .
بعد از مرور مدتي چندي به این قوا توجه بیشتر صورت گرفته ووسایل ووسایط مدرن وپیشرفته

ص ٤

از اثر تعزیرات وضع شده به اصطلاح مستأجرین حقوق بشر :

پرواز هاي ملكي شركت دولفین به افغانستان متوقف گردید

کابل - شریعت :
تنفیذ تعزیرات روز تا روز پیکر مادي و معنوي مردم بی بضاعت افغانستان را تحت فشار قرار میدهد، متوقف شدن پرواز هاي ملکي و بشري شرکت هواپیمایي دولفین به جانب افغانستان قویترین نشانه، تخطي از فرامین حقوق بشر و تاثیر

ص ٤

په هند کی :

زلزلی ۵۰۰۰ کسان ووژل

خنز
نړیوالی خبری سرچینی یا په هند کی د ورمي ورځي د زلزلی له امله د سر د زیان شمیر تر اوسه پوری څه د پاسه پنځه زرو تنو ته رسیدلی دی.
د څه د پاسه دوه زره تنو مړی له کنډوالو څخه ایستل شویدی. دغی زلزلی چی سختوالی یی د ریکټر په مقیاس ۷ اعشاریه نهه درجی ثبت شویدی د هند او د پاکستان د اسلامی جمهوریت او د نیپال د هیوادونو ځینی سیمی ولړزولی.
مقامات وایی چی دغی زلزلی له امله د سر د زیان شمیر له دی څخه

٤ مخ

علي الرغم مخالفت روسیه و چین :

امریکا بر نامه تیم دفاع راکتي خود را تقویت میبخشد

منابع خبري جهان :باختر:
حکومت جدید ایالات متحده امریکا در نظر دارد علي الرغم نگراني برخي از متحدین خود در پیمان ناتو و مخالفت کشور هاي روسیه و چین برنامه تیم دفاع راکتي امریکا را به

ص ٤

در کشور المان کشتار گاو هاي مبتلا به مرض جنون آغاز میگردد

قرار است در کشور المان کشتار یك تعداد زیاد گاو هاي مبتلا به مرض جنون گاو آغاز گردد.
در نظر است حدود هزار رأس گاو از یك فارم

ص ٤

نظامیان اسرائیلي جنوب لبنان را هدف حملات راکتي قرار دادند

منابع خبري جهان - باختر:
نظامیان رژیم صهیونستي بار دیگر مناطق آزاد شده جنوب لبنان را هدف حملات توپخانه خود قرار دادند. گزارشات از بیروت حاکیست که این حملات خسارات زیادي به بار اورده است.
نظامیان صهیونستي مستقر در تپه هاي منطقه شعبا در روز هاي اخیر

ص ٤

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

مونږ له ازبکستان سره تفاهم او ښه گاونډیتوب غواړو

ورمه ورځ په اسلام آباد کی د ازبکستان سفیر د افغانستان له سفیر سره د خبرو اترو په مهال یوځل بیا د خپل حکومت د هغی اندیښنی یادونه وکړه چی دوی یی په افغانستان کی د یو شمیر ازبک مهاجرو له پلوه لري د ازبکستان مقاماتو مخکی هم په دی لړ کی ورته څرگندونی کړی او اسلامی امارت په هر ځل داډ ورکړی چی له دی پلوه دی هیڅ تشویش نه کوی، ځکه دلته چی کوم د گوتو په شمار ازبک مهاجر میشته دي هغوی په هیڅ ډول نظامی فعالیتونو کی نه ونډه لري او نه دلته دجنگی

۲ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هینت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤ـ۳۸٥/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

روزنی څه هدی او مـرکـزونـه شـتـه بلکی بوازی پناه بی راوړی او د ژوند څو شپی سبا کوی او دا هم باید څرګنده کړو چی افـغـانسـتـان له پیله د هغـوی له راتګ سره مـوافـقـه نه درلوده خو په هر حال بیا هم راغلل او میشته شول له همدی ځایه روسانو او نورو مغرضو حلقو ته ښه پلمه پیدا شوه او دا پروپاګند یی شروع کړ چی د ازبکستان حکومت مخالفین هم په افـغـانسـتـان کی روزنیـز مرکـزونه لری او له همـدی ځایه وسلوال کیږی ددغـو تبلیغاتو تر شا چی د روسانو او ځینو نورو خواوو څومره ځانی اهداف دی، هغه د ازبکستان مشرانو ته هم ښه څرګند دی خو په هر صـورت دا هم اوس په دی پوری اړه لری چی په دی هکله ځانته حقایق معلوم، د هغـو په رڼا کی خپله پالیسی جوړه او بی ځایه د چا تر اغیزی لاندی رانه شی، اسلامي امارت په دی هکله آزادو خبریالانو ته هم بلنه ورکړی ده چی د نظامی روزنی هغـه مـرکـزونـه دی څرګند او وښیی چی د ازبکـسـتـان د حکومت مخالفین پکی روزل کیږی مونږ په دی اړه ازبـک مشرانو ته بلنه ورکـوو چی راځی د ټولو اړوندو موضوعاتو په هکله تفاهم وکړو او د خبرو اترو له لاری ددغه ډول تشـویشـونو حل راوباسو. ښایی یادونـه وکړو چی د ازبکسـتـان د بهرنیو چارو وزیر لاډیر مـخکی له افـغـانسـتـان سره د خبرو اترو ملګرتیا او سرحد پرانیستلو تکل کړی و خونـه پوهیږو په دی هکله ولی دومره ځنډو شو. حقیقت هم دا دی چی د دوه اړخیـزو خـبرو اترو له لاری ټولی سـتـونزی هواریدی او د دواړو ګـاونډیو مـسـلـمـانو او له یو بل سـره د تاریخی او ثقـافـتـی اړیکو درلودونکی ولسـونـه د خپلی اقتصادی ښېرازی لپاره ډیر کـار کولای شی نو په دی اساس د ازبکـسـتـان مـشـرانو ته په کـار ده چی دغه ټول واقعیـتونه په نظر کی ونیسی. د پردیو په منفی تبلیغاتو ونه غولیږی او د خپلو اندیښنو په هکله له اسلامی امارت سره تفاهم وکړی د یادونی وړ ده چی ښایی دی ته ورته تشویشونه د افغانستان د اســلامی امــارت له لوری ســره هم وی په دی مــانـا چی د افغانستان د خلکو لومړی درجه مجرمین او د زرګونو بی ګناه انسانانو قـاتلان او د مـال او نامـوس لوټمـاران لکه دوستم، عـبـدالـمـالک او نور ښـه په خـلاص مټ او څرګنده توګـه د ازبکـسـتان له خوا له سیاسی، مالی او نظامي پلوه اکمال او بیا افـغـانـسـتـان ته رالیږل شوی چی د اړتیا په وخت بیرته ترمذ او تاشکند ته رسیدلی دی مګر دا چی دواړه هیوادونه ګـډه پوله، ګـاونډیتـوب او ډیری، مـذهبی، تاریخی او کلتوری اړیکی لری نو په کـار ده چی دا ډول ټولی ستونزی د تفاهم او خبرو له لاری حل او دواړه هیوادونه د خپل اقتصادی پرمختګ لپاره ګډی هلی ځلی وکـــــړي دواړه هیوادونه کولای شي په سوداګری او راکړه ورکـړه کـــــی د خپلو ولسـونو یو شمیر اړتیاوی پوره او لـــــه دی لاری ښی پریمانه ګټی لاس ته راوړی .

په دی باره کی د افغانستان او ترکمنستان ښی اړیکی د منځنی آسیا د ټولو هیوادونو لپاره یو روښانه مثال دی چی باید پیروی یی وشی اسلامی امارت په خپل وار تفاهم د ستونزو حل او ملګرتیا پراخولو ته هر اړخیز چمتو والی لری او یو ځل بیا د ازبکستان چارواکو ته داډ ورکوی چی اسلامی امارت هیڅکله هم د چا په کورنیو چارو کی د لاس وهنی اراده نه لری او تل دا هڅه کـوی چی لـه ګـاونډیو سـره ښی اړیکی او دوستانه راشه درشه ولری.

دریمه نړیواله، جګړه به د مارکیټونو پر سروی

عبدالمالک «رحمانی»

بی شکه چی د تیـــــرو دواړو نړیوالو جګړو تر شا داسی محرکات موجود و چی ددی جګړی د اور بلیدو باعث شول، په دی محرکـاتو کی د نورو تر څنګ یو مـــــهم او د پام وړ لامل پر اقتصادی مارکیټونو باندی د لاس بری او اجـاره داری هم و. خـــو موجـوده حالات او نړیوال شرایط دا خبره ښیخی په ډاګه کوی چی که فرضاً بو ځل بیا دریم نړیوال جنګ بلیږی، نـو یوازی او یوازی لامل بـه یی په مارکیټونو او بازارونو باندی د تسلط وی دا یی توپیر ده چی دغه جنګ او برغل به سـیاسی رنګ لری، او کـه نظامی دا خبـره باید په یاد ولرو د پرمختللو هیوادونو ګټی هغه وخت پوره کیدای شی چی د خپلی خوښی مـارکیټونو او د خپلی متاع لپاره بازارونه پیدا او بیا کنټرول کړی ددی کار ترسره کولو لپاره دغه هیوادونه د خپل سری او یکه تازی حالات را پیدا کوی تر څو په دی شکل خپلی ګټی تر لاسه کړی.

بیا خپله سیاسی او اقتصادی وضع ټینګه کـړی، له دی پس هڅه کوی چی وروسته پاتی او د پرمختګ په حال کی هیوادونه تر خپل سیوری لاندی داسی وســاتی چی د خـــپلو نظریاتو او ایډیالوژی په واسطه د دوی د ګتو ساتنه وکړی... په دی ډول چی هر هیواد د خپلو ګټو او نظریاتو د تحــفظ لپــاره هر څومــره زیات ملکونه تر خپل سیوری لاندی راولی او خپل پلوی یی کړی نو بیا په نړیواله سطحـه په مـارکـیـټونو کی او په انفرادی ډول په هر هیواد کی د خپلی خـوښی حالت رامنځتـه کـوی او هر هیـواد چی په دغـه کـار بریالی شو او دغه مـســابقه یی وګټله بی له شکه همغـه به پرنړی حکومت کـوی... او دغه حکومت به پر مارکیټونو باندی د کنټرول په برکت ورته حاصل شوی وی.

اصلی خبره دا ده چی همدا اوس هر یو پر - څ -للی هیواد په دی هڅه کـی دی چی په یو ډول نـه یو ډول پر نړیوالو مارکیټونو کنټرول تر لاسه کړی که بشپړ کنټرول نه وی هم نو لږ تر لږه دومره صلاحیت خو ولری چی په دغـه ډګـر کی مـهم رول ولوبولای شی.

دغـه خـبـــره د دی له امله هم ضروری ښکاری چی په دی وروستیو کی له سیاسی او اقتصادی پلوه په نړی کی اغـیـــزمن او مـهم بدلونونه رامنځتـه شـوی، چی له امله یی د پرمـختللو هیـوادونو پلانونه ډیر زیانمن او حــســابات یی ګــډوډ شویدی. چی مـثـالونه او بیلګی یی زموږ په مخ کی دی.

روسیی د خپل صنعت عمده اړخ وسلی جوړولو ته وقف کړی و. همدا راز د رنو صنایعو ته یی هم پوره توجه درلوده، په مـقـابل کی یی دورځنیـو سـتـونزو د حل کـولو لپـاره کـوم د یادولو وړ صنعت نه درلود، پداسی حـال کی چی په روسیـه کی د اومو موادو او طبیعی وسایلو کمی هم نه وو، له همدی امله په نړیواله سطحه د روسیی د صـــنعت خریداران ډیر کم وو.

څکه چی له یوی خـــوا د روس اقتصادی پلانونه ناقص وه او له بلی خوا یی توجه وسلی جوړولو او درانه صـنعـت تـه زیـاتـه وه چـی دورو هیـــوادونو خلکو ورســره زیاته دلچسپی لرله. همدا راز امریکا هم د وسلی صنعت ته زیاته توجه درلوده، دا هم په دی خـــاطر چی په نړیواله سطحـه لانجی زیاتی وی، امـــریکا هڅه کوله ددغو لانجو نه په استفادی ســره وسله وپلوری او زیاتی پیـــسی وګټی، ولی د لانجو او جنجالونو په کمیدو سره د امریکا د وسلی تقاضا هم کمه شوه چی په دی وجه د امریکا پر اقتصاد باندی د روند بار پریووت لاچی د هغه هیواد لپاره یی سختی ستونزی را زرغونی کړی.

په همدی شـــــکل، جرمنی، جاپان، سویډن، فرانسی او ایتـالیا هم درانه صـنعت ته پام درلود خـو په یو توپیر چی دی هیـوادو دغـه درانه صـنایع په دریمـه نړی ونه پلورل، او په خپل هیـواد کی یی وکارول، هغو له دریمی نړی څخه او مه مواد په ډیره ارزانه بیـه اخستل د خپلو صنایعو په مرسته یی په پخو موادو بدلول بیرته به یی پر همـاغو هیوادونو په ګران قیـــمـت پلورل، کـــه چیـــری دغـو هیـوادونو درانه صنایع په دریمه نړی خرڅ کړی وای، نو بیا دریمه نړی په دی توانیـده چی د هغـو نه په ګټه اخستو سره خپل خام مواد په پخو تبدیل کړی او له پر مختللو هیوادونه مستغنی شی.

په دی صــــــورت کی به ددی پرمـختللو هیوادونو تولیدات چا اخـــــتل ؟ له همـدی ویری دغـو هیـوادونو په دریمه نړی باندی خپل درانه صنایع ونه پلورل بلکی په خپل هیواد کی یی پکار واچول. خو له دی سره سره دغو هیوادونو درانه صنایع جوړ کړل خو ویی نه پلورل ځکه چی له دریمـی نړی پرتـه یی بل څوک اخیستلو ته تیار نه و نو ویلای شو چی د درانه صنعت له امله دغو هیوادونو ته هم څه عـایدات په لاس ورنه غلل، نو ځکه یی اقـتـصـادی حـالت ډیر زیانمن شو.

اوس دا ټول هیوادو نه د ژوندی پاتی کیـدو لپاره دری پوښتنی لری څڅــــه ؟ چی څه څی وپلوری ؟ څه وکړی ؟ او چیرته لاړ شی ؟

څکه هر د کـــسب څښتن چی څه شی جوړ کړی د هغـه د خرڅلاو لپاره بازار او مـــشــتـــری ته اړه لری، کـــه مشتری نه وی نو خامخا به شیٔ ضایع کیږی، که فرضاً هغه مشتری هم پیدا کړی، خو چی مشتر... ...داسی ځای کی وی چی پلورونکی د ورتلو لاره ورته نلری نو بیـا د داسی خـریدار د پیدا کیدو څه ګټـه ؟ او که بیا داسی ځای پیدا کړی چی د رسیدو لاره هم لری او بازار هم، هلتــه بیـــا ورته ضـــروری ده چی په دغـــه بازار کی د نورو دکـانداراتو د قیـمت خیـال هم وسـاتی ځکه که د ده د موادو بیه لوړه وی نو بیـا هم خریدار نشی ورته پیدا کیدای.

نو مجبوریږی چی د مارکیټ د **نرخ مطابق متـاع وپلوری، نو په دی وجه بیا پکار ده چی د تولیداتو لګښت تر وروستی حده کم کړی، خو که دا ممکن نه وی نو بیا په ټول مارکیټ باندی، کنټـرول او د خـپلی خـوښی بیوټاکلو ته اړتیـا پیدا کیږی ، تر څو مشتریان له مجبوری نه د هغـه هر څه په** لوړه بیـه وپیـری په دی حـالت کی دکاندار د خپلی خوښی ګټه تر لاسه کوی او د خپلی خوښی ژوند کوی...

همـدغـه حالت د هیـوادونو ترمنځ په نړیوال مارکیټ کی هم دی، چی همدا اوس ټول پر مـختللی هیوادونه په دی مسابقه کی روان دی هڅه کوی.

په دی ډګـر کی تر نورو مـخکی شی، کله نا کله یو بل ته دوکـه هم ورکوی.

د دوکی په وجـه د جګړی خطر رامنځتـه کـیږی په اوسنی وخت کي چی زیات هیوادونه په دغه مـسابقه لګیا دی، یو بل ته له دوکی ورکولو نه هم ډډه نه کـوی دغـه کـار د جګړی خطرات را پیدا کړی نو دغه جګړه تر اوســـــه یو پر بل باندی د وسلی د استعمال نه بلکی د عقل یو د بل د بلیک مـــیل کـــولو (په جــال کی نښلولو) او ســیـــاســی چالبازیو په سطحه روانه ده. اوس اکثره تولید کوونکی خپل مال په خپله خوښه نه شی خـرڅولای کـه مـونږ جـاپان ته وګورو نو هغه، هغه دکاندار ته ورته دی چی ســامــان هم ورســره شتــه او مـشـتـری هم لری، دومـره همت نلری چی خپله متاع دبل له مشوری پرته په بواځی صـورت وپلوری، له بل پلوه د شـوروی له ختـمیـدو او د خپلواکـو هیوادونو له رامنځته کیدو وروسته د نوی اقـتـصـادی بلاک هیلی را پورته شوی.

که چیری دغه بلاک په غښتلی او منظم شکل راوړاندی شی نو د هغه له برکته نه یوازی اسلامی هیـوادونه اهمـیـت تر لاســـه کـــوی بلکی په اقـتـصـادی سطحه هم دغه هیوادونه مهم رول لوبولای شی.

ددی اقـتـصـادی بلاک جوړیدو لپاره زیات کـار هم شویدی، د ایران، ترکیی او پاکـسـتـان په ګډون د ایکو **په نامـه د اقـتـصـادی تعـاون تنظیم په ۱۹۸٥ کـال جـوړ شـوی و او اوس د شـــوروی تر ختمیدو وروسته اذربایجان، ترکـمنسـتـان، تاجکـسـتـان او ازبکـسـتـان هم پکی شـامـل شـوی، پداسی حـال کی چی قزاقـسـتـان او قـرغـزسـتـان په ایکو کی د ناظر په حـیـث ګـډون لری کـه څه هم دغـه خـــپلواک هیـــوادونه په اقتصادی لحاظ ډیر وروسته پاتی دی خـــو زیات طبیعی** وسایل لری د هغو د پکار اچولو لپاره ضروری ده چی هلته صنعتونه پکار واچول شی که څه هم پاکستان، ایران او ترکیـه فـعلاً ممکن ددی پوره توان ونه لری چی هلتـه فـابریکی پکار واچوی خو له دی سره سره چی که دغه اقـتـصـادی بلاک غوره پروګرام او خـپلواک مـزاج ته پر هر څه ترجیـح ورکـړی او د نورو له فـــشـــار پرته غښتلی، منظم او فـعـال شی نو ښـه نتیجه ورکولای شی، ددی تر څنګ که افـغـانسـتـان هم په دی بلاک کی شامل شی نو دا بلاک نور هم اغیزمن کیدای شی او دا کومه نا ممکنه خبره هم نه ده.

بله خبره دا ده چی امریکا ددی بلاک له جوړیدو نه ډیره په ویره کی ده ځکه چی د هغی دکـانداری به زیانمـنه او په وړاندی به یی بل څواک رامنځتـه شی. بیـا به امـریکاته دا اوسنی حیثیت وړپاتی نشی او نه به په دنیا کی د خپل څواک په زور خپل سـری وکـولای شی د همـدی ویری له امله امریکا ددغه اقتصادی بلاک پر هیوادونو باندی سیاسی او اقتصادی فشار اچوی، خو له دی فشار سره سره پاکستان ایران او ترکیی ته لازمه ده چی په جرئت او زړورتیا ګامونه اوچت کړی موقتی او عارضی ګټی تر شا کـړی د راتلونکی لپـــاره منظمـه پلانګذاری وکړی، که دا کار وکړی نو بیا به راتلونکی زموږ په لاس وی او اسلامی هیوادونه چی فعلاً د امریکا تر اغـیـــزي لاندی دی هغـه به هم د څواکـمن اقـتـصـادی بلاک په موجودیت کی دغه اسلامی بلاک ته ورنږدی شی. کیدای شی دغه اسلامی بلاک د ســیـمـه ایز حـالت نه په یو نړیوال شکل تبارز وکړی خو که خدای مه کړه موږ وقت او موقع ضایع کړه نو بیا به راتلونکی زموږ په لاس کی نه وی، بلکی موږ به د وخت په لاس کی او د نورو رحم وکرم ته به محتاج یو.

هیله ده چی د اســـلامی هیـوادو مـشـران په ځانګړی توګه ددغی سیمی د هیوادو مشران دغه ضرورت حس کړی او د ځان او اســلام په ګـتـه ګامونه اوچت کړی.

نامه امام حسن بصري به عمر بن عبدالعزیز

صفات امام و زمامدار عادل

گرد آورنده احمد شاه «وحدت»

وقـتـیکه حضـرت عـمـر بن عبدالعزیز «رض» به خلافت برگزیده شد نامهٔ نوشت به امام حسن بصري و از او خـواست تا صـفـات امـام و زمامدار عادل را بوي بنویسد، امام حـسن بصـري در جـواب عـمـر بن عبدالعزیز چنین نوشت :

بدان اي امیــر المـومنین کـه خـداوند «ج» امـام عـادل را سـبب اصـلاح و إستقامت هر کجرو،منحرف و باز دارنده هر ظالم از جـور و ظلم، باعث اصـلاح هر فـاسـد، مـایه، قـوت هر ضـعـیـف، داد بخش هر مظلوم و پناه گاه هر ستمدیده و مجبور ساخته است .

اي امیر المومنین !

امام و زمامدار عادل در معامله با رعیت خود شباني را مي ماند، که بر شترش شفیق و مهربان است، آن را به بهتـرین چراگا ها مي برد و از ورود به جـا هاي هلاک شـدن بازش مي دارد و از درندگان حمایتش مي کند و از سختي هاي گرمي و سردي حفاظتش مي نماید.

اي امیر المومنین!

امـام و زمـامـدار عـادل براي رعیـتش پدر مهرباني است که براي راحتي اطفال خود در وقت طفولیت شــان تلاش مي کند و در بزرگي تعلیم شان میدهد، در زندگي خود براي شان نفقه و رزق تهیـه مي کند براي ایام پس از مرگ ، چیزي ذخیره مي نماید.

اي امیر المومنین!

امـام و زمـامـار عـادل مـادر مهرباني را میماند که بر طفل خود سخت مشفق است، او سختي حمل و مشقت ولادت طفلش را تحمل نموده و نوزادش را بعـد مـشکلات بزرگ مي کند، اگر شبها طفلش بیدار بود او نیز بیدار میماند و اگر طفلش آرام و مطمـئن بود او نیـز مطمـئن است، اگر طفلش صحتمند بود ما در نیز مـسرور است و اگر طفل مریض بود مادر نیز غمگین است.

اي امیر المومنین!

امـام و زمـامـدار عـادل وصـي یتیمـان است و خزانه دار مسـاکین، خورد شان را بزرگ مي کند و بزرگ شان را کمك مي رساند.

اي امیر المومنین !

امام و زمامدار عادل، قائم میان پروردگار و بندگان اوست کلام خدا را مـي شـنـود و آن را بـه

ص ٤

پوهیالي لیلما «یما»

١٦

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

گذشته پر افتخار و وضع تا ثر انگیز امروزي

نفاق خانه ویران کن

بند ٦٣:

تا تزلزل در بناي اتفاق ما فتاد　　تا نفاق خانه ویران کن سوي ما پا نهاد
تا گذشتیم از طریق اخوت و مهر و داد　　تا که بگرفتیم راه کینه و بغض و عناد
ذره در بزم گیتي هاي دهوي ما نماند　　آه عبر از اشك یأس آبي بروي ما نماند

شرح: با کمال تأسف باید گفت از زماني که در کاخ اتحاد و اتفاق مسلمانان تزلزل به میان امد و نفاق خانه ویران کن سوي سر زمینهاي اسلامي گام گذاشت و مسلمانان راه اخوت و برادري و محبت و سخاوت را کنار گذاشتند ودر عوض جاده، کینه و بغض وعداوت را در پیش گرفتند، در جهان دیگر از توانایي و قدرت مسلمین صدایي بلند نشد و اشك یأس و نا امیدي به رخسار مسلمانان جاري گشت .

ایجاد تفرقه و بي اعتمادي در میان مسلمانان از جانب استعمار کاملاً آگاهانه و شعوري است تا اینکه مسلمانان دوباره نیرو نگیرند و به عنوان ابر قدرت در جهان مطرح نشوند . جهت احیاي قدرت سابق، مسلمین به یك مبارزه آگاهانه ، شعوري و ایدیولوژیك ضرورت دارند. اکثر اوقات مبارزاتي که علیه استعمار از جانب مسلمین صورت گرفته است چون ناشیانه، پراگنده و عقده یي بوده بناءً نتیجه لازم از آن بدست نیامده است. مثلاً وقتي یك کشور و یا اجتماع اسلامي مورد تجاوز استعمار قرار گرفته است با راه اندازي مظاهرات بي پشتوانه و گفتن چند زنده باد و مرده باد و دو و دشنام میان تهي اکتفا کرده اند و گویا از این طریق درجه نفرت و انزجار خود را از استعمار نشان داده اند و دیده شده که چنین شکل مبارزه نتیجه نداده است .

اگر مسلمانان کشور ها و اجتماعات مسلمین در سراسر جهان میخواهند قدرت نخستین خویش را احیا کنند باید از یك جانب مبارزات خود را آگاهانه و ایدیولوژیك بسازند از جانب دیگر اتفاق و اتحاد ، قدرت مادي و فزیکي خود ا جمع نمایند و علیه استعمار در یك صف واحد قرار گیرند .

وضع ناهنجار کنوني

بند ٦٤:

در زمان ما مفاد از ما همه ملت گرفت　　رومة الکبري زما درس فن و حکمت گرفت
شانزلیزي از منار مصر ما زینت گرفت　　فرقه، علم و ادب، قوم دگر صنعت گرفت
آن ترقیات خود را آه از کف داده ایم　　دستگیري اي خدا کز دست و پا فتاده ایم

شرح: شاعر در این بند اشاره به این میکند که در زماني که تمدن اسلامي به اوج ترقي و پیشرفت قرار داشت همه، جهانیان از آن سود گرفتند و بهره مند شدند، همچنان رومة الکبري یا امپراتوري روم (پیراس غربي) از مسلمانان آموزشهاي صنعتي و حکمي و فلسفي گرفت و منار زیبایي که در جاده شانزلیزي فرانسه نصب است به تقلید از منار زیبا و قشنگ مصر ساخته شده است و به همین ترتیب تعدادي از ملل جهان از مسلمانان علم و ادب را فرا گرفتند و تعداد دیگر صنعت و پیشه را آموختند. اما افسوس که آنهمه ترقي و پیشرفت خود را از

ازدست دادیم .

اي خداي مهربان! دستگیري براي ما بفرست تا دست ما را بگیرد، زیرا ما انسانهاي از دست و پا افتاده یي هستیم که به دستگیري نیاز داریم.

شاعر به یاد مسلمانان ایامي را مي آورد که تقریباً بر تمام کشور هاي آسیایي، افریقایي و اروپایي حکمروایي مستقیم و یا نفوذ قابل ملاحظه یي داشتند و به هر کشوري که داخل شدند گذشته از تعلیمات دیني، علم و تمدن ملکوتي را به ارمغان بردند و مسلمانان مرجع تقلید سایر کشور هاي جهان قرار گرفته بودند اما از زمانیکه به اثر افسون استعمار کوشش و تلاش را کنار گذاشتند و غفلت و تن پروري را پیشه نمودند به مثابه انسان هاي از دست و پا فتاده یي شدند که هیچ کاري از آنها ساخته نیست.

راه حل مشکلات جهان اسلام

بند ٦٥:

آه اي اسلام روح غیرت و علم و هنر　　اي کنون از ذلت غفلت شده ننگ بشر
تا که گردي باز در راه ترقي پي سپر　　صورت ریگ بیابان شو قدم پا تا سر
از ضعیفي نیست پروا عزم اگر دارد ثبات　　میکند باریکي شمشیر قطع مشکلات

شرح: آه اي اسلام عزیز که مایه مباهات انسانها و جهان در مجموع هستي و روح آزاده گي و غیرت و علم و هنر و تمدن را به عالیترین شکل آن در خود نهفته داري چه غم انگیز است که ذلت و خواري و عقبمانده گي ذهني و مادي برخي از مسلمانان و کشور هاي اسلامي و اجتماعات مسلمین که تعلیمات حقیقي ترا درك ننموده اند و به خود نیامده اند، هنوز هم مي آزارد و این عقبمانده گي شان ننگي است بر جبین بشریت. این افراد زماني میتوانند در راه ترقي و پیشرفت گام بگذارند که سرتا قدم ریگ بیابان شوند یعني متواضع گردند، مسلمانان نباید از ضعف مادي خود بهراسند اگر داراي عزم قوي و راسخ هستند فقط تیغ شمشیر میتواند همه، مشکلات را مرفوع سازد. توضیحاً باید گفت که منظور از کار برد کلمه، اسلام در اینجا تلویحاً اشاره به ان مسلماناني است که از نام اسلام استفاده، سؤ میکنند و اوامر و نواهي الهي را غلط تحلیل و تفسیر مینمایند و غفلت و بي خبري را پیشه، خود نموده اند. و اما اگر یك عزم و اراده، قوي در مسلمانان وجود داشته باشد از ضعیفي خویش پروا نه نموده با اعلان جهاد علیه باطل پرستي و غفلت و تنبلي میتوانند همه، مشکلات را مرفوع سازند.

به هر حال قسمي در بند هاي ٤٥-٦٥ دیده شد شاعر ژرف نگر ما مرحوم ابراهیم خلیل افتخارات گذشته اسلام را یکبار دیگر بیان نموده و آن را با وضعیت و حالت فعلي مسلمانان در مقایسه قرار داده است تا هوشداري باشد براي مسلمین که اگر به خود نیایند و با هم اتحاد و اتفاق نکنند و اختلافات سلیقوي را کنار نگذارند به کام اژدهاي خونخوار استعمار فروخواهند رفت. البته این هوشدار به مسلمانان است نه به اسلام زیرا حامي اسلام و قرآن مجید ذات خداوند«ج» است و اسلام عزیز و قرآن پاك زنده جاوید است نه خلل میپذیرد و نه تحریف میگردد.　　ادامه دارد

صحت و زندگی

منتصدي صفحه : محمد انور احمدزي

ترمیم انساج توسط شیر

چون شیر محتوي بهترین نوع پروتین مي باشد از نظر سازندگي وترمیم سلولهاي بدن نیز اهمیت بسزایي دارد وازاین بابت نیم لیتر شیر مي تواند جانشین ۱۰۰ گرام گوشت شود واز طرف دیگر شیر داري مقدار زیاد کلسیم است طوریکه هر لیتر شیر میتواند کلسیم لازم بدن را تأمین کند بنابرین شیر مي تواند جانشین گوشت شود ولي گوشت نمیتواند جاي شیر را بگیرد .زیرا گوشت تقریباً فاقد کلسیم است خلاصه اینکه شیر یگانه غذائیست که میتواند در آن واحد همه بافتهاي بدن (استخواني وغیر استخواني)را بسازد ودرصورت لزوم ترمیم کند . از نظر ویتامین نیز شیر داراي ویتامینهاي با ارزشي است .

ویتامین A که براي رشد انساج بدن مخصوصاً سلولهاي شبکه چشم ودفاع دربرابر عفونتهابسیار مؤثر است .

-ویتامین D که براي نصب کلسیم روي استخوان بکارمي رود .

ویتامین B که براي قابل جذب شدن گلوسید هادر بدن وتعادل عصبي وسلامتي پوست نهایت مفید مي باشد .

انارد ۱۱ ناروغیو لپاره درمل دی

اوسني علمي څیړنې په دې ټینګار کوي چې انار د ۱۱ ناروغیو درملونکی او د بدن د اساسی غذایي ضروریاتو بشپړه پوره کوونکي دی.

څیړنې ښیي چې د انار دانې هغه باکتریاوې چې د اسهال سبب ګرځي له منځه وړي همدارنګه د زړه او معدې څواک زیاتوي، وینه صافوي ، بولي رنځونه د پښتورګو فعالیت زیاتوي د بدن حرارت نورمال ساتي،د هضم عملیه آسانوي، دخوږو درد کموي دغه راز د انارو د ګلانو شربت هم د اسهال لپاره ګټور ثابت شوي دي. د دغو څیړنو د ملي مرکز استاد دکتور سعید سلمان په دې خبره ټینګار کوي چې د انارو د پوټکي ایشول او څښل د خیټې چینجي له منځه وړي ځکه چې په دې کې «ثاینین او فلوراید» مواد موجود دي.

همدارنګه انار له مېده کولو او لمدولو وروسته د شرې د علاج لپاره هم استعمالیدای شي د انار دونې له ریښو څخه داسې مخدر مواد چې په کیمیاوي علاج کې ترې ګټه اخیستل کیږي هم په لاس راتلای شي . سر بیره پر دې چې انار د علاج لپاره استعمالیږي بوه پوره او کامله غذا هم ده، په انار کې پروټین، غوړ، مالګین مواد لکه پوتاشیم، وسپنه، او داسې نور توکي هم شته .

څیړنو دا هم څرګنده کړې ده چې انار د اعصابو د کمزورۍ او ټینګو د پړسوب په علاج کې هم ګټور ثابتیدي شي په تیره بیا چې له شاتو سره ګډ استعمال شي.

په غوږو کې سرو کړو شیانو پسې د انارو خوړل د هاضمې سیستم ډیر نورمال ساتي.

په انارو کې له ۱۰ نه تر ۱٤٪ پورې ګلوکوز ۱٪ مالګه او په ډیره زیاته کچه اوبه او پروټیني مواد شته. په انارو کې ډیر نور مواد هم شته لکه فاسفورس، پوتاشیم، وسپنه، مګنیزیم او همدا رنګه یو څه انداز غوړ .

بهترین دستور براي لاغر شدن

بهترین دستور براي لاغرشدن انحصار صبحانه به خوردن میوه است مخصوصاً به میوه هاي کم قند و کم چربي.

اگر مي خواهید لاغر شوید وشکم شما کوچك شود باید مدتي صبحانه خود را به خوردن میوه اختصاص دهید وتا ظهر غذاي دیگر نخورید .

بهترین میوه براي اینکار مرکبات وانواع آلو وغیره میوه هاي ترش مزه میباشد وقتي شما چند روز صبح میوه مثلاً لیمو یا پرتقال بخورید وتا ظهر غذاي دیگر نخورید مشاهده خواهید کرد که چربیهاي شکم شما آب شده ومي توانید ورزش کنید .

درمانهاي خارجي با عسل

یك قاشق ماست خوري عسل را دریك چهارم لیتر آب ریخته وبجوشانید یك داروي مفید براي غرغره کردن به دست مي آید که بهترین ادویه براي انواع مختلف گلو دردي است با این مایع مي توان چشم را هم شست .

دمکروب وژونکو درملو زیات استعمال ذوجود دفاعي ځواک کموي

په منځنۍ ختیځ کې په دې وروستیو کلونو کې دمکروب وژونکو درملو استعمال ډیر زیات شوی که ماشومانوته معمولي پړسوب یا کومه بله میکروبي ناروغي ورسیږي ځوکورنۍ یې ډیر ژر له روغتیایي څیړنې اوتشخیص پرته داسې مکروب وژونکي دارو درمل استعمالوي چې په ګڼ شمیر میکروبونو باندې تاثیر کوي دغه ډول غلط علاج دماشومانو په وجود کې نور داسې ډیر مکروبونه را پیدا کوي اوهغه لاځواکمن کوي چې بیابه ډیرو قوي انټي بیوټیکو په مقابل کې هم مقاومت کوي ددغو دارو درملو یو بل خطر دادی چې په استعمال سره یې هغه باکتریاوې چې دوجود دفاع اوحفاظت کوي له منځه ځي په دې توګه د مضرو او ګټورو باکتریاو توازن چې د «فلورا» په نامه یادیږي له منځه ځي.

د یادونې وړ ده چې په بدن کې داسې ګټورې باکتریاوې هم شته چې د ځینو ویټامینونو او د هغو د مرکباتو جوړیدو سبب کیږي لکه د B ویامین د K ویټامین ، وسپینه او داسې نور.څیړ نو جوته کړیده چې ماشومانو ته د انټي بیوټیکو استعمال په هغوی ډیره بده اغیزه کوي او د ویټامینونو د کمښت ویره رامنځ ته کوي. ځینې مکروب وژونکي د اورودرمل د ډیرو بدو عواقبو لکه د غوږو د کوڼوالي ، دینې (ځیګر) د خرابیدلو د بډوډو د فعالیت د له منځه تللو ، هاضمې جهاز د خرابیدلو لکه د اسهال او نورو او ځینو جلدي اضطراباتو او نورو سبب کیدای شي .

که غواړئ تندرسته و اوسئ نو پیاده وګرځئ

امریکایي څیړنو ثابته کړې چې ۷۰ ملیونه امریکایي وګړي په منظم ډول د پیاده ګرځیدلو ورزش کوي. صحت پوهانو دا معلومه کړې چې ګرځیدل د ورزش تر ټولو ښه ډول دی ځکه د ګرځیدلو ورزش کوم خاص وسایل او ځای ته ضرورت نه لري ځکه په هر وخت او هر ځای کې په ډیره اسانۍ سره دغه کار کیدی شي.

هغه اسباب او خصایص چې سړی پیاده ګرځیدلو ته هڅوي د امریکې د جونز هوپکنز پوهنتون د روغتیایي ورزشي څانګې استاد جون الیر په لاندې ډول بیان کړي دي:

په دوامداره توګه ګرځیدل د وزن د زیاتوالي مخه نیسي او نورمال یې ساتي.

اوسني څیړنو دا هم جوته کړې ده چې ګرځیدل د وینې فشار کموي. د لوړ فشار لرونکي کسان باید دا کار په زیاته اندازه په پام کې وساتي او زیات وګرځي.

- د شکرې ناروغانو د بدن هغو برخو ته چې وینه نه رسیږي ډیر ګرځیدل د وینې د رسولو تر ټولو ښه وسیله بلل کیږي او په وینه کې د شکرې د اندازې کمولو تر ټولو ښه وسیله بلل کیدای شي.

- په بدن کې د داخلي هورمونو تناسب زیاتوي چې د سکون او استقرار سبب ګرځي همدارنګه د خوب نوعیت هم ښه کوي او ماښامنی ستړتیا له منځه وړي.

دغه ورزش چې ډیر ګټور ساده او اړینه هم دی باید هر سړی یې عملي کړي. لکه څرنګه چې **د امریکې د خوراک او دواراداري FDA خپلو هیوادوالو ته توصیه کړې چې هره ورځ باید له ۲٤ دقیقو څخه تر ٤٥ دقیقو پورې پیاده وګرځي چې دغه کار د دوی روغتیا ته زیاته ګټه رسوي.**

منابع خبري جهان

آزمایشات برای ساختن تابلیت های درمان سرطان بزودی آغاز خواهد شد

یک گروپ از محققان بین المللی قرار است بزودی آزمایشات خود را برای ساختن تابلیت های درمان سرطان آغاز کنند. سرپرست این گروه نود نفری که یک استاد چهل و هفت ساله انگلستانی است چندی پیش موفق شد ژنی را کشف بکند که پروتینی محو کننده تومور های سرطانی را تولید میکند. تحقیقات علمی نشان داده است که ختلال در عملکرد این ژن سبب فیصد ابتلا به سرطان ریه و دهانه رحم و پنجاه فیصد ابتلا به سرطان مغز را در پی داشته است.

این محققان در نظر دارند تا تابلیت های درمان کننده ای سرطان را به شیوه انجنیری ژنیک تولید کنند و امیدوار اند که در آینده تابلیت های در دسترس مریضان مبتلا به سرطان قرار گیرد که آنها را از این مریضی ها مزمن رهایی بخشند.

محترم مولوي سيد فاروق مظهري ...

تري از کشورهاي مختلف چون ايالات متحده امريکا . انگلستان ، ايتاليا واتحاد جماهير شوروي وقت خريداري گرديد همچنان درسال ۱۳٤۸ هـ ش ۱۰ عراده موتر جمـي از انحصارات دولتي اخذ ودرتصدي کارخانجات جنگلك براي شان تانکرها ساخته شد وبالاي اين وسايط نصب و در دسترس اطفائيه قرار داده شدند قابل ياد آوريست که در همين وقت اولين گروپ از افسران در تاريخ اطفائيه جهت فرا گيري تحصيلات مسلکي به کشور انگلستان اعزام گرديد که عبارت بودند از حاجي عبد الغفورهوتکي ونصرالله عمر خيل که درسال ۱۳٤۹ دوباره به کشور عودت نموده وتحول عظيمي را درمسايل مسلکي اطفائيه وتبليغ وترويج مسايل وقايه ومجادله بوجود آوردند . تشکيلات اين قوا روز تاروز وسيعتر گرديدند تا اينکه درسال ۱۳۵۵ هـ ش مکتب اطفائيه تأسيس گرديد وپرسونل مسلکي بيشتري تربيه ويه اين قوا تقديم گرديد درسال ۱۳٦۳ آمريت عمومي اطفائيه برياست اطفائيه عمومي ارتقاء نمود وبعد از آن اطفائيه با ايجاد مديريت هاي تعليم وتربيه ، نظارت اطفائيه ،تبليغ وترويج نورم تخنيکي وستندرد اطفائيه ، اکمال تخنيك ورکشاپ ترميم وسايط ، لابراتوار ، ورکشاپ آلات ضد حريق ، ديپوها ومکتب اطفائيه به کار خود بيش از پيش ادامه داد درهمين وقت وسايط تاترا که باسيستم پيشرفته اطفائيوي مجهز وبطور اتومات عيار گرديده بودند وارد کشور گرديده واطفائيه از لحاظ کميت وکيفيت درسطح عاليتري قرار گرفت وعضويت فدراسيون بين المللي اطفائيه را حاصل کرد . اما افسوس وصد افسوس که با آغاز جنگ هاي ذات البيني درشهر کابل تمام وسايل ، وسايط وتجهيزات اطفائيوي اين قوا به شمول تعمير رياست اطفائيه عمومي کاملاًاز بين رفتند .که خسارات وارده ناشي از اين جنگهاي بي مفهوم وتباه کن به قواي اطفائيه بالغ برمليون ها دالر ميگردد که جبران آن در شرايط کنوني دشوار مينمايد .

موصوف خاطر نشان ساختند که با پيروزي امارت اسلامي افغانستان به اين موسسه عام المنفعه تو جه خاصي صورت گرفته ودرنتيجه سعي وتلاش تخنيکران وپرسونل مسلکي اين رياست دوعراده واسطه غير فعال اين رياست مجدداً ترميم وغرض اجراي وظايف اوپراتيفي اماده ساخته شده است که شب وروز درخدمت هموطنان قرار دارد .

دراخير محترم مظهري چنين گفتند : از آنجائيکه به عموم هموطنان متدين و مسلمان ما هويداست ارگان اطفائيه از اوان تأسيس خود درخدمت عملي جامعه قرار داشته وهميشه مساعي بخرج داده است تا دارائي هاي عامه، شخصي وخصوصي طعمه حريق نگردد وهم در وقت وقوع افات سماوي چون سيلاب ، زلزله ، ابخيزي بوقت وزمان به کمك محتاجين بشتابد ولي با پيروزي ا.ا.ا اين پروسه بشر دوستانه مطابق پاليسي امارت اسلامي افغانستان اهميت خاص کسب نموده است .

رياست اطفائيه عمومي وزارت امور داخله ارزومند است تا درزمان وقوع حادثات حريق ، هموطنان ما الي رسيدن قواء اطفائيه از آمکانات دست داشته خويش جهت خاموش نمودن حريق ، از همکاري وکمك انساني خويش دريغ ننمايند وحين وقوع حريق به ار گان اطفائيه اطلاع دهند .

عبدالبصير «شاکر»

پرواز هاي ...

فشار هاي همه جانبه اين تعزيرات را در شرايط کنوني بالاي مردم افغانستان نشان ميدهد .

اين مطلب را محترم ملا هدايت الله «ابو تراب» معين وزارت هوانوردي ملکي و توريزم به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : « از آنجائيکه پرواز هاي خارجي طيارات د آريانا افغان هوايي شرکت در نوامبر ۱۹۹۹ ميلادي از جانب شعبه تعزيرات شوراي امنيت ملل متحد متوقف گرديد، وزارت هوانوردي ملکي به منظور انجام خدمات بشري و فراهم آوري تسهيلات بيشتر براي تجار افغاني مصلحتاً با کمپني ملکي هوايي دولفين قرار داد نمود که بر وفق اين قرار داد دولفين در هفته يکبار (يکشنبه ها) بين افغانستان و امارات متحده عربي پرواز مينمود؛ اما از طي چند روز بدينسو اين پرواز ها به جانب افغانستان کاملاً متوقف گرديده است.

البته قابل ياد آوري است که تداوم رکود اين پرواز ها مشکلات قابل ملاحظه را براي مردم ملکي بويژه تجار افغاني ببار خواهد آورد.

در کشور المان ...

در ايالت ساکون المان به کشتار گاه منتقل گردد.

مالکين اين مواشي عليه اين اقدام شديداً اعتراض کرده اند. در کشور المان تا کنون اين مرض درفو زده رأس گاو در مناطق مختلف آنکشور به اثبات رسيده است .

در جوزجان ...

غذايي جهان ميباشد به مستحقين و معلولين ولسوالي سيد آباد ولايت سرپل تحت نظر محترم خداي داد نوري ولسوال سيد اباد توزيع گرديده است .

نظاميان اسرائيلي...

چندين بار مناطق آزاد شده جنوب لبنان راْ هدف قرار دادند که از اثر آن يك تن از مبارزين لبناني شهيد و' دو تن ديگر مجروح گرديده است .

د عامي روغتيا ...

د ميدان وردگ ولايت د نرخ ولسوالى لپاره د لومړنيو روغتيايي څارنو او د عامي روغتيا .د اداري کورس پرون د عامي روغتيا وزارت د کتابتون په تالار کی د·پوړی غونډی په ترڅ کی جوړ شو .

په دی غونډه کی لومړی د عامی روغتيا وزارت معين محترم مولوی حافظ سيد عصمت الله عاصم د وينا په ترڅ کی زمونږ د هيوادوالو د روغتيا او سلامتيا د تامينولو په کار کی د کورس د برخه والو دندی مشخصی کړی او په دی برخه کی يی د هغوی د لازياتو برياليتوبونو هيله وکړه .

وروسته د عامی روغتيا وز ارت د وقايوی طب او د لومړنيو روغتيايی څارنو لوی رئيس محترم طبيب آقا گل دوست او د نړی د روغتيايی سازمان استازی محترم طبيب بشير احمد نورمل په وار سره ددغه شان کورسونو د جوړولو د ارزښت په باب خبری وکړی او د کورس له شاملانو څخه يی وغوښتل چی له خپلو علمی زده کړو څخه په استفادی سره دخلکو د روغتيايی حالت د ښه والی په برخه کی هڅه او هاند وکړی.

د کابل ښاروالي ...

ژرندی ددی د کلچو پلورنځی چی له نرخنامی څخه په زياته بيه پلورنی د وزن د لړوالی لو روغتيايی مقرراتو دنه مراعاتولو له امله له دريو ورځو څخه تر پسو ورځو پوری وتړل شول.

د شکردري ...

توپ شته چی پخوا د مخالفينو لخوا د شکر دری ولسوالی په يوه سيمه کی پټ او ځای په ځای شوی و د استخباراتو د لوی رياست د څلورمی اداری د منسوبينو لخوا کشف او اړوند ارگانونو ته وسپارل شول.

زلزلي ۵۰۰۰ ...

هم زيات وی ځکه د نږدی پنځه زره تنو د·برخليک په باب معلومات نشته او دذی ويره شته چی تر کنډوالو لاندی شوی وی .

دغی پيښی له امله د پېيانو شمير دری زرو ته جودل شويدی، ددغی زلزلي مرکز د هند په لويديځ گجرات ايالت کی ثبت شويدی.

دغه زلزله په هند کی په وروستيو پنځو سو کلونو کی ديره قوی زلزله ثبت شويده .

تشکيلاتي ...

ستری محکمی د کرنی او مالداری وزارت او د مخدره موادو پر خلاف د مبارزی د امارتی عالی کميسيون د ۱٤۲۲ هجری قمری کال د تشکيل د هر اړخيزی او دقيقی څيړنی په ترڅ کي په دی باب تصميم ونيوه او ددغو ارگانونو تشکيلات تاييد شول. د تشکيلاتی کميسيون کار له ټاکلی محال ويش سره سم هره ورځ دوام لری.

امريکا برنامه ...

پيش برد.

. جورج دبليو بوش رئيس جمهور ايالات متحده امريکا اظهار داشته است که وي به وعده هاي خود در مبارزات انتخاباتي عمل خواهد کرد دونال رامس فيلد وزير دفاع امريکا تاکيد کرده است که اين سيستم راکتي فضايي عليه روسيه نبوده و امريکا قصد دارد از طريق آن از خود در برابر حملات احتمالي بعضي کشور ها چون کورياي شمالي و غيره دفاع کند.

د بگرام په استقامت

زيانونو په زغملو سره بې د تيښتی لاره غوره کړه .

دغه راز په هغو دوو نورو تعرضونو کی چی د اسلامی امارت مخالفينو د بگرام په شاوخوا غونډيو کی تر سره کړل په لومړی سر کې يې يو څه پر مخ تگ وکړ خو د هغی حملی ضد له امله چی د اسلامی اردو د مجاهدينو د ويجو پوځونو لخوا تر سره شوه د بگرام شاوخوا ټولی غونډی د افغانستان د خلکو د دښمنانو له ناولتيا څخه پاکی شوی او د دښمن دوه ټانکونه د مجاهدينو لاس ته ورغلل او يو بل ټانک يې بيخی ويجاړ شو او دښمن د سر د درندو زيانونو او مالی تاوانونو په زغملو سره د تيښتی لاره غوره کړه .

ا.ا.ا به سرمايه ...

ميخواهيم تا با استخراج معدن مس فابريکه بي را در اين زمينه نيز ايجاد نمايم تا مس استخراج شده را در خود افغانستان به کار اندازيم وي افزود در اين پروژه ده ها مليون دالر به مصرف ميرسد و براي هزاران تن از افغانها زمينه کار مهيا ميگردد.

په ترکيه کي ...

شی. د کردستان د کارگرانو گوند بندی مشر ددغی جگړی بيا پيل کيدل په هغه صورت کی شونی وبلل چی د ترکيی حکومت د عراق د کردستان له دوو لويو گوندونو سره يو ځای شی.

دد هغی وينا په ترڅ کی چی له جبل څخه د هغه د وکيلانو په وسيله خپره شوه د عراق د کردستان د دموکرات گوند او د عراق د هيوادنی اتحاد يی له مشرانو سره د ترکيی د حکومت وروستی ترون ته اشاره کويده .

د مخالفينو ...

شويدی. همدارنگه د عينی شاهدانو په وينا په پنجشير کی اوسيدونکی خلک له سختو اقتصادی ستونزو سره مخامخ دی.

نا مساعدو شرايطو او همدغو ناوړه اقتصادی ستونزو زيات خلک د سيمی پرېښودلو ته اړ ايستلی دی.

خو په پنجشير کی د اوسيدونکو چارواکو لخوا د هغوی د تللو ممانعت کيږی.

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$ 150

صفات امام و زمامدار ...

بندگان خدا مي شنواند، خود به امر پروردگار منقاد و تسليم مي شود و بندگان خدا را به امر او منقاد و تسليم مي سازد.

« اي امير المومنين ؛

در سلطان و ملکي که خداوند «ج» بتو بخشيده است نبايد مانند آن غلامي باشي که بادارش او را امين پنداشت و مال و عيالش را به حفاظت وي سپرد اما او مال بادار خود را بباد داد و عيالش را مطرود ساخت و اهل و عيال بادارش را فقير ساخته و مالش را ضايع نمود بدان اي امير المومنين که خداوند «ج» حدود را براي آن نازل نموده تا بندگان از مبادرت به خيانت و فحشا منع شوند، اگر خدا نخواسته تطبيق کننده حدود خود از اهل خيانت و فحشا باشد وضع جامعه چگونه خواهد بود ؟!

خداوند «ج» قصاص را براي حفاظت حيات و زندگي بندگان خود نازل فرموده است، اگر کسي که قصاص مقتول را از قاتل مي گيرد، خود مردم را بقتل برساند حال مردم چگونه خواهد بود ؟!

اي امير المومنين!

لحظات مرگ و مرحله، بعد از آن را بياد بياور و بدانکه نه حشم و خدم و نه هم در باريان و انصار تو در آنجا بتو نفع رسانده مي توانند، از همين حالا براي مرگ و بعد از مرگ توشه فراهم ساز و از فزع اکبر «خوف بزرگ» بر حذر باش.

بدان اي امير المومنين! که غير از قبريکه در آن مي خوابي منزلي نداري ، بقاي تو در آنجا بدرازا خواهد انجاميد، دوستانت ترا در آنجا تنها مي گذارند، آنان ترا در قعر قبر، يکه و تنها رها مي کنند، پس از همين اکنون براي سکونت درآنجا خودت را آماده کن و براي آن توشه بساز تا با تو مصاحب و همدم باشد و آن روزيست که انسان از برادر و مادر و پدر و همسر و اولاد خود فرار مي کند.

اي امير المومنين!

اين قول خداوند را بياد ار که مي فرمايد : ترجمه : وقتيکه بيرون آورده شود آنچه که در قبرهاست و بيرون کشيده شود آنچه در سينه هاست» اسرار پنهاني ظاهر مي شود و کتاب هيچ خورد و بزرگ را متروك نخواهد گذاشت :

اي امير المومنين !

حالا فرصت داري پس قبل از اينکه اجلت فرا رسد و آرزويت قطع شود به آينده بينديش ود ر ميان بندگان خدا همچون جاهلان حکم منما و راه ظالمان را در ميان ايشان در پيش مگير، مستکبرين را بر مستضعفين مسلط نساز ، زيرا مستکبرين در حق مستضعفين هيچ نيکويي را مراعات نمي کنند، اگر آنچه از آن نهي شدي انجام بدهي گناهان آنان بر گناهان تو افزوده خواهد شد.

اي امير المومنين!

بايد آنانيکه در بدل شقاوت تو در نعمت بسر مي برند ترا فريب ندهند، آنان از طيبات دنيا طوري سود مي برند که در مقابل طيبات و نيکي هاي تو در اخرت از بين مي رود.

امروز بر قدرت و نيروي خود نظر مکن و بر آن غره مشو، فرداي قدرت خود را ببين که در ريسمان مرگ اسيري و در پيشگاه خداوند «ج» در حالي ايستاده مي شوي که در آن مجمع ملائيکه و انبياء و رسولان حضور دارند و همگي براي پروردگار حي و قيوم خاضع و تسليم اند.

اي امير المومنين !

هر چند درين پند و نصيحت نتوانستم به درجه، ناصحان و پند دهندگان پيشين برسم، مگر از شفقت و نصيحت دريغ نکردم نامه و من را چون طبيب مهرباني پندار که براي مريض --- دواي تلخي را مي نوشاند که در آن اميد شفاي مريض است .

سلام و رحمت و برکات خداوند «ج» بر تو باد اي امير المومنين !.

* * * * * * * * * * * *

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press